مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

آصف بهاند

۲۰۲۶/۰۸/۰۱

# لنډۍ، د ثبتولو ستونزه

## ۳۹۰مه برخه

**تش په دېوال رانه پناه يې**
**كډې دې يوسه چې زړگی مې صبرشينه**

**غم مې په زور ځانته پيدا كړ**
**نن د خپل يار كوځې ته بيا راغلۍيمه**

**دا خو لا زهيم چې ولاړيم**
**د بېلتون درد ولاړې ونې وچوينه**

**خداي دې په داسې بلا سركړه**
**چې مور دې كلي لټوي، پلار دې ښارونه**

د لنډيو د دې برخې لهپاره دا لاندې لنډۍ راټولې شوې دي:

**جانانه ستا خپلول گران دي**
**د كريكټ بال يې، په نيوو دې سترۍشومه**

**خبرې لنډې ـ لنډې وايه**
**د لارې سر دی، ځوک به ځي ـ ځوک به راځينه**

**خال يې پرزنه داسې ښكاري**
**لكه چې پيوو ته لونگ لوېدليوينه**

**خداي دې په داسې بلا سركړه**
**چې مور دې كلي لټوي، پلار دې ښارونه**

**كابل دې تا ته مباركوي**
**زه د پردي وطن مزدوريم، سبا ځمه**

**كيسه نه تا كې ده، نه ما كې**
**كيسه قسمت كې ده چې گرد مې تاواوينه**



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ

**ما چېرته دنگو غرو ته بوزئ**
**د ښار په شورماشور کې ډېره تنګه‌یمه**

**ماله هغه اوبه زم زم دي**
**چې مې جانان پهکې مخلاس مینځلېوینه**

**مېږې اوزې راباندې پیایي**
**ړوند مینتوب کړې، په شپانه غلطه شومه**

**د زنده‌گۍ پوښتنه مه‌کړه**
**خپلېځنګلي غبرګوم، سرته یې ړدمه**

**د بارانه تېکار دې ورکـشي**
**لـه یـادوتـلـيخـلـک بـیـا دریـادویـنـه**

**د خاوروغبـږه به خوږه وي**
**چې یار زما غبږه پربېږدي، خاورو ته ځینه**

**د جنګپرستو زور اوبه‌شه**
**د ژوندپرستو هیلې دوی وژلېدینه**

**د ژړېدلو سړی نه‌یم**
**یار چې بېننګه راته وايي، وژاړمه**

**د بیلتون غږ دې پر ما وشو**
**وجود مې درووند شو، مځکه ځای نه‌راکوینه**

**د زمانې دستور بدل شو**
**د خوشالو په ځای غمونه تېرومه**

**د بادشاهۍ لایقې پېغلې**
**ستا په اوربل ګردونه زړه اره‌کوینه**

**د بېوسۍ زور مې لیدلی**
**د بېکسۍ له زوره نن خبره‌شومه**

**دا خو لا زه‌یم چې ولاړیم**
**د بېلتون درد ولاړې ونې وچوینه**

**د راتلو لوظ دې میراتشه**
**زه دې د ګوتو په شمارلو ستړې کړمه**

**تش په دېوال رانه پناه یې**
**کډې دې یوسه چې زړګی مې صبرشینه**

**ته په بهر کې تېه‌وکړه**
**زه به وطن کې ورته اوښکې تویومه**

---


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

بیا مې لیدل اسانه نه دي
که مې ملګري پر مزار ماتکړي سرونه

په شوګیرو مئِنه یاره
تا په دې ویښو شپو کې څه لیدلي دینه

په کبر مهوایه چې زهیم
ما بادشاهان د دار پرسر لیدلي دینه

پرځنګانه سر راته کېږده
په غریونیولي غږ تپې درته کومه

ستا به په یاد یم، که به هېریم
زه دې په زړه پورې ګنډلی ګرځومه

ستا هېرول، د روح وتل دي
زه ځنکدن پرځان منم، تا هېرومه

ستا فرمایش و، ما پوره کړ
په سوي زړه لالیه چا خندلي‌دینه

ستا په وعدو مې باور نه‌شته
جانانه ستا وعدې تر تا نازکې‌دینه

غم مې په زور ځان‌ته پیدا کړ
نن د خپل یار کوڅې ته بیا راغلی‌یمه

غم مې په خپله ځان‌ته بوت‌کړ
بیا د جانان کوڅه کې څو ځل تېره‌شومه

لا مئِن نه‌یې، ښه خوب وکه
که خدای مئِن کړئ، بیا به نه‌درځي خوبونه

راسه رجړومه دې درواخله
نه دې یاري کړم، نه دې نښې ګرځوومه

زموږ د کلي نصیب خوار دی
چې ونې شنې شي، زمکه سره په وینو شینه

اوښکې دې پاکې‌کړه، مه‌ژاړه
پرخدای مې وسپاره، پرخدای به دې سپارمه

ایرې به تولې پرسر بادکړم
د مینې اور به دې په زړه کې پټ ساتمه

څومره بې‌وسه جنګیالی یم
زه ورته ګورم، دوښمن هرڅه سوځوینه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

**څومره بېوسه لامبوزن یم**
**زه ورته ګورم، لالی خړې اوبه‌وړینه**

**چې ورور دې نه‌وي، زور دې نه‌وي**
**چې مور دې نه‌وي، کور دې لوټې ـ لوټې وینه**

**حساب به وکړو، وخت به راشي**
**پـرمـخ څپـیـړې راکـوه، ولاړه‌یـمـه**

**قبر سوری کړه حال مې واخله**
**رټ مې خـوږېږي د مرمـیـو پـرهـرونه**

**وطن دې تا ته مبارک وي**
**زه د پردي وطن مارغه یم، سبا ځمه**

**هرڅه دې تا ته مبارک وي**
**زه د پردي وطن میلمه‌یم، سبا ځمه**

نوربیا

د لیکوال نورې لیکنې په لاندې لینک کې لوستلای شئ:

**http://afghan-german.com/tahLiLha/EditAutor.aspx?95**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ